مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

# زما د دښمن دښمن زما دوست دئ

محمد یوسف صابر- ساپی ۲۰۲۴/۱۰/۲۵

اوس اوس د پاکستان پوځ بیا د پښتنو په سیمه کې د « عزم استحکام » په نامه پوځي عملیات په مخ کې نیولي دي. دا د هماغه ۲۰۱۴ م کال د « ضرب عضب» د پوځي اپریشن او نورو نژدې شلو پوځي عملیاتو ادامه ده. نوموړو عملیاتو د پنجاب دولت ته څو غوره کټي ورسولې:

- څو ملیارده مفت امریکایي ډالر یې د تروریزم سره د مبارزې په نامه ترلاسه کړل؛
- د پښتنو ټول دودیز قبیلوي سیستم یې کډوډ کړ، هغه نسبي خودمختاري یې هم ورڅخه واخیستله او د پاکستاني آیین تابع یې کړل.
- د پښتونخوا زیرمي یې په خپل اختیار کې راوستلي او ټوله شتمني یې ورته بېباکانه خپله کړه.

د پنجابي پوځ همدغه کټور انتقامي عملیات، چې په درد او فغان باید یادونه وشي، د پښتنو د ملي ادعا لرونکو ګوندونو د مشرانو شفاهي حمایت یې هم، په دوکو ۇ او که له نورو مجبوریتونو، له ځان سره درلود، پښتنو ته په خورا لوړه بیه تمام شول:

ټول له خپلو کورونو څخه دښتو ته وشړل شول، ټول په خپله خاوره کې مهاجر شول؛ په سلګونو قومي مشران، د طالبانو په لباس کې د پاکستاني ځانګړو جزوتامونو له خوا ترور شول؛ په زرګونو زرګونو پښتانه، د ماشومانو، ښځو او سپین ږیرو په شمول په کې مړه شول؛ ختین کورونه لوټ او ړنګ شول، بې شمېره ځوانان ترې تم شول، ډېرې میندې لاتراوسه سترګې په لار دي چې زامن به یې بېرته غیږې ته ورشي... د پښتونخوا دښتو، غرو رغو څخه اوس هم زموږ د عصر ددغه ستر ناورین چیغې پورته کیږي، خو د بشر د حقوقو ړانده او کاڼه مدافعان یې نه شي اوریدلی. زموږ عصر د ګټو عصر دئ، د انسانیت عصر نه دئ. د ګیله من فغانونه له همدغه ځایه راپورته کیدل، د پښتون ژغورني غورځنګ هلي ځلي د پښتنو د نجات له پاره د همدې هیولاو په مقابل کې غبرګون دئ.

د پاکستان پوځ د پښتنو په سیمه کې د « عزم استحکام » عملیاتو له پاره ښايي بیا د انګلو-ساکسون ادارو څخه، د لاس په نامه نوکر په توګه څو روپۍ اخیستي وي، تر څو خپل ځیني عاجل اقتصادي مجبوریتونه پرې رفع کړي. د پښتنو د سترګو په وړاندې د «ضرب عضب» وحشت بیا را ژوندی دئ. دادئ د پښتون ژغورني غورځنګ د عدالت خواهی له پاره ټولو پښتنو ته د جرګې لمن وغوړوله. پنجابي واکمنانو د پښتون ژغورني غورځنګ په فعالیتونو بندیز ولګوه. د غورځنګ مشر په ځانګړي جرئت سره اعلان کړه، چې موږ د پښتني جرګې د جوړولو له پاره د چا اجازې ته ضرورت نه لرو.

زړورتیا د بریالیتوب غوره شرط دئ

**په جهان د ننګیالو دي دا دوه کاره یا به وخوري ککری یا به کامران شي**

پنجابي پوځ د جرګې د مخنیوي له پاره ټولي هلي ځلي وکړې، په لارو کې یې ممانعتونه ایجاد کړل، د پښتون ژغورني غورځنګ فعالان یې بندیان کړل، د جرګې خیمي یې وسیځلې او پنځه ځلمیان یې شهیدان کړل. د «بابړې عام وژنه» یې تکرار نه کړه، ښايي د «لوارګي جګړه» یې په یاد وه، هلته چې څلوېښت زره مغولي لښکر د پښتنو د ګټونو لاندې تباه شوېوه.

جرګه د پښتني ولسونو په بیساري ګډون سره تر سره شوه، د جرګې پریکړې د پښتنو له پاره خورا هیلې بخښونکې دي. خو د تأمل خبرې هم په کې شته دي:

۱- د پښتنو د جرګې پریکړې به څنګه په عمل کې پلي کیږي؟ د پښتون ژغورني غورځنګ پرته، د پښتنو نورو سیاسي ګوندونو کردار به چې د یوې خوا د پاکستان د سیاسي جوړښت برخه او د بلې خوا د پښتنو د جرګې او پریکړې ګډونوال دي، څنګه وي؟ د پاکستان دولت نور غبرګون چې ښايي د شانګهای د کلوب د کلنۍ غونډې د کوربه په توګه د بوختیا له کبله یا د پښتني ولس د بی حسابه زیات راغونډیدو له بیرې، شاتګ وکړ، څه ډول وي؟ ایا پوځ به د جرګې د پریکړې سره سم د پښتونخوا څخه ووځي؟ ایا پاکستاني طالبان به د جرګې پریکړو ته غاړه کیږدي؟ چیرته لاړ شي؟ وسلې تسلیم کړي؟

د پنجاب له ادرسه ډیر کله اوریدل کیدل چې دوه ډوله طالبان وجود لري: « ښه طالبان » او « بد طالبان ». په واقعیت کې « ښه طالبان» دا هماغه د ISI جزوتامونه دي، چې په بیلو بیلو ځایونو کې، په مختلفو وختونو په جلا جلا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بنه ځرګندېږي او ټاکلي عمليات سرته رسوي. په کشمير کې د هنديانو په جامو کې ترور او چاودنې کوي، په پښتونخوا کې د طالبانو په لباس کې د پښتنو ازاد فکره مشران وژني، په بلوچستان کې د بلوڅو په بنه عامه تاسيسات ورانوي، په افغانستان کې د داعش او القاعده په نامه فعاليتونه لري...

په اوسني ريال پوليټيک کې يو سياسي فورمول خپل صحت په عمل کې ثابت کړی دئ، هغه دا چې: **زما د دښمن دښمن زما دوست دی.** هماغسې چې په سياست کې دايمي دوست او دايمي دښمن نشته، همداسې يواځې ملي ګټې دايمي پاتې کيږي. هماغه طالبان چې يوه ورځ د امريکا او پاکستان په حمايه د سيمې د سياست صحنې ته راپورته شول، بله ورځ د هماغه امريکايي او پاکستاني ضربو لاندې خورد او خمير شول، نن هماغه طالبان امريکا او پاکستان ته درد سر ګرځېدلي دي.

د افغانستان څخه د امريکايي پوځونو په ويستلو کې د طالبانو په مشری د افغان ولس بېسارو کارنامو ته ښايي په کمه ستر‌ګه ونه کتل شي. <u>که چيرې په افغانستان کې امريکايي پوځونو ماته نه وای خوړلې او له دې ځايه نه وای وتلې، نن به د پښتون ژغورني غورځنګ هم په دومره قوت او زوروتيا سره د پاکستان دولت بنديزونه نه وای چلنج کړی.</u>

هماغسې چې د افغان او انګليس په لومړی جګړه کې د انګريز د نه ماتيدونکي زور طلسم مات شو او ځرګنده شوه چې د انګريز پوځ بې حده ظالم دئ، خو بې حده زوورور نه دئ، په ټول هند کې يې د انګريز د ظلم او ناروا په ضد مسلمانان او هندوان راوپارول. دقيقاً په همدغه ډول د افغانستان څخه د ناټويي ځواکونو شړلو نړيوالو ته وښودله چې د امريکا ټوله ننداريي نظاميګري قوت نه لري، نورو ولسونو ته يې هم د خپلو حقوقو اخيستلو الهام ورواخښنه.

د هيواد ملي او ترقي غوښتونکو معاصر تاريخ ددې ډول تيروتنو څخه ډک دئ، چې مذهبي قوت ته يې په کمه ستر‌ګه کتلې دي. د افغانستان د آزادي څخه وروسته دا تيروتنه وشوه، د هيواد چپي ګوندونو په خورا خشنه توګه دا تيروتنې تکرار کړې، پايلې يې هيواد اوملت ته خورا درندې وې. د پښتون ژغورني غورځنګ د خپل ځان او د ټولو پښتنو د بقاء او بري په ارمان ښايي دا ډول تيروتنو ته په خپلو کړنو کې ځای ورنه کړي. انګريز، مغل، پنجابي او يهود د مذهبي نيرو څخه د پښتنو، افغانانو په ضد استفاده کوي، پښتانه- افغانان په خپله مسلمانان د اسلام له قوت څخه په خپله ګټه کار نه شي اخيستلی. دا زموږ بيکاره ګې ده که نه!

۲- د زور سوچ خبره داده چې د پښتون ژغورني غورځنګ کړنلاره به د بنديز په صورت کې څه وي؟ ستراتيژي يې څه ده؟ اوږدمهاله ستراتيژي لري او که نه؟ که يواځې د پوځ د عملياتو د وحشت څخه د بيرې په غبرګون کې راپاځيدلي دي او څه لنډمهاله غوښتنې لري؟

هغه غورځنګونه چې لنډمهاله هدفونه لري، په لنډ مهال کې له منځه ځي؛ هغه غورځنګونه چې منځمهاله موخې تعقيبوي، په منځمهال کې د مبارزې له صحنې څخه ووځي ؛ يواځې هغه غورځنګونه چې اوږدمهاله ستراتيژي او هدفونه لري، د اوږد ژوند وړتيا لري. دا هغه غورځنګونه دي چې د مبارزې ټولو ډولونو څخه کار اخلي او برياليتوب ته رسيږي.

پاکستان د ازاديبخښونکو جنبشونو ټکولو اوه لسيزې تجربه لري او د انګريزي استعمار وارث په توګه د څو پيړيو انګريزي تجربې هم له ځان سره لري. د پښتون ژغورني غورځنګ يو داسې دښمن سره مخامخ دئ چې د شيطان په څير ستر ښکاري، خو قوي نه دئ، اما خورا مکار دئ. استخبارات، جيلونه، شکنجې، ټولنيزې رسنۍ، پوځ، پيسې او د خپلو او دوکو نور وسايل په اختيار کې لري. د داسې ناروا دښمن په مقابل کې د درېدو توان يواځې هغه جنبش لرلی شي چې ددې ټولو ناروا په مقابل کې د ځان ساتنه په ټولو وسايلو سره کولی وشي. د عدم تشدد غلط تعبير چې آن د ځان او ملت په ساتنه کې به هم وسلې ته لاس نه اچوې، چاره ساز نه دئ. د ځان او ملت دفاع تشدد نه دئ، د ځان ساتنه فرض ده. د پښتون تاريخي او ملي ځانګړنه داده چې هغه ننګيالی او جنګيالی دئ. د ميرنتوب او جنګياليتوب خصوصيت تری واخه، هغه نور پياوړی نه دئ. لکه **شهيد ګيله من** چې به زمزمه کول:

**د مار نه چې زهر وباسي ماهي شي      پښتون نه چې ننګ ليرې کړې ګلخان شي**

په سياست کې د سياسي مبارزې ټول ډولونه: سوله ايېزه، د اړتيا په وخت کې وسله واله، علني اوسري مبارزه د برياليتوب حتمي شرطونه دي. که څوک سياست کوي، نو د سياسي مبارزې د ټولو ډولونو څخه بايد هدف ته د رسيدو له پاره کار واخلي، که غواړي هدف ته ورسيږي.

د لر اوبر ملي قوتونو پيوستون او ګډه مبارزه د دواړو خواوو په ګټه دئ. د ټولو پښتني سياسي سازمانونو راغونډول په يوه واحده اجماع ( لکه همدا لويه جرګه) کې د برياليتوب له پاره خورا اړين ښکاري. يواځې د همدې اجماع له لارې داسې کليدي غوښتنې لکه د ټولو پښتني سيمو د تعليمي او اداري نصاب پښتو کول تر لاسه کيدلای شي. د پښتو ژبې په ساتلو سره خپل ملي هويت ساتل کيدی شي، که نه هماغسې چې په ميليونونو پښتانه په هند کې د هنديانو د بيشماره نفوس په سمندر کې ورک شول، همداسې به د پښتونخوا پښتانه هم د پنجاب د خسک دوله نفوس په ډنډ کې ډوب او تباه شي.

پښتو يواځې ژبه نه ده. پښتو د پښتونوالي په معنی هم ده. په پښتونوالي کې بيا د پښتنو ټول تاريخي، فرهنګي او معنوي ارزښتونه خوندي دي. افغانانو د تاريخ سترو يرغلګرو ته يواځې د خپلې ځانګړې اراضي له برکته نه، بلکې د



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خپلو ځانګړو معنوي ارزښتونو په قوت سره ماته ورکړې ده. دښمنانو د همدې درک له کبله په وروستيو کې پر افغانانو فرهنګي يرغل پيل کړی دئ، د تاريخي او معنوي ارزښتونو په ژورو کې پرې بريدونه کوي.
استعمار تر ټولو لومړی د ټولنې معنوي او اخلاقي ارزښتونه ورڅخه اخلي. که چيرې پدې بريالی شو چې ولسونه د اخلاقو، معنوياتو څخه وتلي يواځې په مادياتو راټولولو بوخت کړي، نو بيا استعمار بشپړ بريالی شو. تر هغه چې له ولسونو څخه يې د هغوی معنوي ارزښتونه نه وي اخيستي، بريالی کيدی هم نه شي، پرې واکمن کيدی هم نه شي.
هر پښتني غورځنګ که د پښتو او پښتونوالي ستراتيژي غوره کړه، اوږد مهاله ژوند او برم يې هم په نصيب دئ. د پښتو او پښتونوالي لار سل په سلو کې خپلواکۍ ته رسيږي. خپلواکي هغه ستره انساني مرتبه ده چې انسان په کې خلق شويدی. خپلواکۍ د ستراتيژيک هدف په څير يواځې د ذهني غوښتنو اړتيا نه، بلکې د ټولنيزو عيني قانونمنديو سره برابر جريان دئ، ځکه يواځې هلته انسانيت او خلاقيت خوندي دي.
د ملي مبارزې په دغه ټاکلي پړاو کې **د ټولو ملي افغاني سياسي سازمانونو متحدانه فعاليت** ( د دښمن دښمن په توګه د طالبانو په شمول، سره ددې چې ملي صبغه يې د اسلامي صبغې په څنګ کې دويمه درجه ځای لري) **د خاورې د ژغورنې تر ټولو غوره او مؤثره لار ده.** په دې منځ کې هغه سياسي حرکت چې خپل لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله موخې په سړه سينه وټاکي، ګام په ګام يې په تدبير سره تدوين کړي، په خپلو ليکو کې ديموکراتيک سنتراليزم عملي کړي، د سياسي مبارزې ټولو ډولونو( سوله ايیزه، د اړتيا په وخت کې آن وسله واله، علنې او سري مبارزې) څخه هدف ته د رسيدو له پاره ګټه واخلي، د حق په خوا هم ولاړ وي، هرومرو برياليتوب ته رسيږي. پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ